بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

# ۴ـ د زکات کتاب

ګرانو ورونو او خوایندو! د امکان په صورت کی که دغه مضمون له ځانه سره چاپ او خپل دوستان کلی او ولس ته یی ورسوی ډیر به ښه شی ، ترڅو مو له هیواد څخه دغه بد حال چه په یوه کور کی پلوونه او بل کور ماشوم اولاد د فقر په وجه د کمه پیسو په بدل کی خرڅوی ورک شی او پر خلکوکی د زکات او زړه سوی جذبه پیدا شی .

په درناوی

د مسجد شریف اداره

www.masjed.dk

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (النور ۵۶ ) .

لمونځ قايموی (په ښه شان سره له ټولو حقوقو ) ! او ورکوی زکات ! اودپيغمبر اطاعت وکړی هيله ده چه پر تاسی رحم وکړای شی .

زکات داسلام څلورم ستر رکن دی چه ډیر ډواهم عبادت دی په قرآنکریم کی ډیرځایه لمونځ اوزکات یوځای ذکرشوی . چه دغه دواړه عبادتونه دټول دین ترجمانی کوی. په بدنی عباداتوکی لمونځ دټول دین نماینده‌گی کوی اوپه مالی عباداتوکی زکات دټول دین نماینده‌گی کوی .

زکات په ټولنه کی د بی وزلی او فقر پر وړاندی تر ټولو غوره وسیله ده ، د زکاة په اداء سره په کور ، کلی ، ولس او هیواد باندی الهی رحمتونه او برکتونه نازلیږی ځکه په کوم قوم کی چه رحم ،زړه سوی او یوله بله کومک وی نو پر هغه قوم باندی هم خدای ج خپل رحمتونه نازلوی له بلا او آفاتو یی ساتی .

په کوم قوم کی چه زکات نه وی پر هغه به همیشه لوږه او فقر حاکم وی ډول ډول آفات به وربانده راځی .

## دزکات حکم :

زکات د اسلام دریم ستر رکن دی چه پر مسلمانانو نر اوښځه فرض دی .
په قرآنکریم تر ۸۰ ذيات ايتونو کی زکات له لمانځه سره پيوسته ذکر شوی دی .

وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ ( البقره ۴۳ ).

لمونځ قايموی (په ښه شان سره له ټولو حقوقو ) ! او ورکوی زکات ! او رکوع کوی سره له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو مسلمانانو) .

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (النور ۵۶ ) .

لمونځ قايموی (په ښه شان سره له ټولو حقوقو ) ! او ورکوی زکات ! اودپيغمبر اطاعت وکړی هيله ده چه پر تاسی رحم وکړای شی .

## دزکات فضايل :

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ (البقره ۲۷۷ ).

يقيناً هغه کسان چه ايمان يی راوړی دی او کوی دوی ښه عملونه او قايموی لمونځ (په ښه شان ) او ورکوی دوی زکات شته دوی لره اجر په نزد د رب د دوی او نشته هيڅ ډول ويره پر دوی باندی او نه به دوی ( هيڅکله ) غمجن کيږی .

هُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ ۲ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (سوره النمل ۲-۳ ).

لاښوونه او زيری ورکوونکی دی مؤمنانو ته ( په نعيم سره ) هغه ( مؤمنان ) چه قايموی لمونځ (په ښه شان ) او ورکوی زکات او دوی په ورځی د قيامت هم يقين لری ( چه رابه شی په حقه سره دغه ورځ ) .

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ۱ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ۲ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ۳ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ (المؤمينون ۴-۱ ) .

پتحقيق سره بريالی شوی دی مؤمنان، (هغه مؤمنان ) چه په لمنځونو کی عاجزی ښکاره کوی ،( هغه مؤمنان ) دوی له بدو خبرو او بدو کارو څخه مخ اړونکی دی، (هغه مؤمنان ) چه دوی د زکوة ادا کوونکی دی .

عَنِ اَبِی هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ تَعَلی اَنفِق يَابنَ اٰدَمَ اُنفِق عَلیكَ .

دحضرت ابوهریره (رض ) نه روایت دي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایی چه هربنده ته د الله تعالی دا پیغام دی چه ای د آدم زویه ! ته زما په ضرورتمندو بنده ګانو خپله ګټه خرڅ کوه – زه به د خپلی خزانی نه تالره درکړم ( رواه بخاری او مسلم ) .

## د زکات نه ورکوونکو ته ډیر سخت دردوونکی غذابونه :

.... وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (التوبه ۳۴ ) .

اوهغه کسان چه خزانه کوی سره زر او سپین زر (مال او دولت ) او نه لګوی هغه په لاره د الله ج کښی نو زیری ورکړه دوی ته په غذاب دردناک سره .

وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ( آل عمران ۱۸۰ ) .

پرکومو خلکو چه الله تعالی دخپل مال او دولت پیرزوکړی ده اوهغه له شومتوب نه کار اخلی په دی خیال کی دی نه چه دا بخل او زردوستی د دوی په حق ښه ده ،بلکی دا دهغوی په حق ډیره بده ده ، هغه چه په خپلی بخلی سره څه را ټولوی هماغه به د قیامت په ورځ دطوق په شکل غاړی ته ورواچول شی .

## نبوی (ص ) ارشادات :

مَامِن أحَدٍ لاَ يُؤَدِّی زَکَاةَ مَالِه اِلاَّ مُثِّلَ لَه يَومَ القِيَامَةِ شُجَاَعاً اَقرَعَ حَتَّی يَطُوقَ عُنُقَه ( ابن ماجه )

څوک چه د خپل مال زکات ورنه کړی نو مال به یی دقیامت په ورځ دداسی مار په صورت مجسم شی چه سربه یی پک وی او دده تر غاړه به ور تاوشی .

ما'نِعُ الزَّکا'ةِ يَومَ القِيا'مَةِ فِي النّار ( طبرانی )

څوک چه د زکات له ورکړی منعه کوی نو د قیامت په ورځ یی ځای دوذخ دی .

## دزکات د وجوب شرطونه :

۱- مسلمانی : نوڅوک که نوی مسلمان شی پرهغه د مخکی وختونو زکات لازم ندی .
۲- بلوغ : نابالغه ماشوم یا د ماشوم ولی باندی زکات فرض ندی که یی آدا کړی نه صحی کیږی .
۴- د نصاب مالک کیدل : د دومره مال مالک کیدل چه شریعت پری زکات واجب کړی دی .
۵- پوروړی نه وی : یوه سړی د نصاب په اندازه مال لری ولی د نورو پوروړی هم وی زکاتورباندی نشته .
۶- پرمال پوره کال تیریدل : نصاب ته رسیدلی مال به یوکال تیرشوی وی ،پدی اړه نبوی (ص) ارشاد مبارک :
دحضرت عبدالله ا بن عمر (رض ) نه روایت دي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایی : چه چاته په هره طریقه مال حاصل شو، نوپرهغی باندی تر هغه وخته زکات نه واجبیږی څوپوری چه په هغی باندی یو کال نه وی تیر شوی ( رواه الترمذی ).

۷- پرخپلواصلی ضرورتونو سربیره د نصاب شته والی :
۸- عقل : پرلیونی زکات فرض ندی .

## د زکات د اداء کولو دصحت شرطونه :

یعنی د دغه شپږ شرطونو سره د زکات ادا صحیح ده او که نه وی زکات نه اداء کیږی :
۱- مسلمانی :د زکات اداء کوونکی به ضرور مسلمان وی ، دنامسلمان زکات نه اداء کیږی .
۲- عقل : که یو لیونی زکات ورکړی زکات یی نه اداء کیږی .
۳- په ټاکلوځایونو کی د زکات مصرفول : هغه ځایونه په قرآنکریم کی واضح بیان شوی ،چه

لاندی په تفصیل ذکر شوی ،که پرته له دغو ځایونو په نورو ځایونو کی ولګول شی زکات نه ادا کیږی .
۴- بلوغ : نابالغه ماشوم که زکات ورکړی زکات نه اداء کیږی .
۵- مالک ګرځول : دزکات اداء کولو پروخت باید د زکات اخیستونکی دهغه مالک وګرځول شی ، که هغه فرد وی اوکه د زکات راټولولومامورین وی .
۶- د زکات داداء کولو نیت : زکات اداء کوونکی باید د زکات د اداء کولو پر وخت د زکات نیت ولری .

## دزکات د آدا کولو ګټی :

۱- د مال پاکوالی : که زکات ادا نشی نودزکات د مستحقینو حق به په مال کی ګډ شوی وی ،چه د زکات په ادا سره به د هغوی حق بیل او مال به پاک شی ، په معنوی لحاظ د ګناهونو څخه پاکیدل ، دناولیو او پاتیکدونوکو څیزونو دشوق او محبت څخه د زړه پاکوالی .
۲- دمال ذیاتوالی : دزکات په ادا کولو سره خدای ج په مال کی برکت اچوی ، نوکله موچه زکات ادا کړ بیا به له حساب کولو ورسته درته معلومه شی چه د نور وخت پر پرتله کټه څومره ذیاته شوی
حیران به پاتی شی .
۳- له بلاؤاو آفاتو څخه د مال بچوالی : دزکات په ادا کولو سره به بیا په مال آفتونه او بلاوی نه راځی تجارتی مارکیت به اور نه اخلی او د غلوله غلا او لوټ او داسی نورو به په امن وی .
۴- بی حده خوشحالی او د زړه سکون : د زکات له ادا کولو سره سم د انسان په زړه کی ذیاته خوشحالی او سکون پیدا کیږی ځکه چه په هر عمل او کسب کی د خدای ج رضا وی سړی خوشحالی او آرام احساسوی .
۵- دسیخیانو په ډله کی ور ګډیدل : د زکات ورکول تر ټولو غوره سخا ده .
۶- دزړه نرم والی او پر نورو رحم کول : دزړه نرم والی ډیر لوی صفت دی چه نرم زړه د دوزخ اور نه سوزی ، نوکله چه هغه خوارانو ته چه خلورو دیوالونو ته حیران ناست وی دخواراک لپاره هم څه نه لری زکات ورکړ شی خومره لوی رحم ، زړه سوی او خواخوږی به وی .
۷- له حب دنیا څخه خلاصون : له دنیا اودولت سره محبت ستر مرض دی چه ددی مرض په وجه سړی بخیل ،سخت زړی او بی مینی او علاقی وی له مرګ څخه ویره لری د دنیا د عیش اونوش هیله لری .......... نو آخربه تر کومه ژوند وی .
نوکله چه څوک له خپل خوږ مال څخه د خدای ج د رضا لپاره زکات ورکړی دهغه په زړه کی د خدای ج د محبت ولولی په جوش راشی او د ناولی فانی دنیا محبت یی له زړه وزی .
۸- د خدای ج پر نعمت شکر : بی له شکه هغه کس چه زکات اداء کوی ، نو پوره یقین لری چه زه خو پخوا ناداره وم ای خدایه ستا پر خپل فضل مالداره وګرځولم نو نن ورځ په ډیر اخلاص ستا له راکړی یواځی ځلویښتمه برخه پر بی وزلو او خوارانو ویشم ، نوشکر خو همدی ته وایی چه نعمت د خدای ج له خوا یو فضل وګڼل شی ، ولی هغه کس سره لدی چه خدای ج ورباندی د مال پیرزوینه کړی وی خو زکات نه ورکوی پر دی ګمان وی چه دا زما د منډو او کوښښتونو ثمره ده .
نو د زکات ورکول ورته ډیر سخت بریښی ګمان کوی چه پدی ۴۰ حصه به می مال کم شی چه دا د لوی چښتن ج سره ستره بی وفایی او د بندګی له شانه سره ناشکری ،سرکشی او ډیر بدکار بللای شو.
۹- دخلاصون لاره : دالله ج رضا چه په سپین مخ به د خپل لوی چښتن ج په حضور
کی ولاړیږی خپل مال به درته د نجات او خلاصون وسیله وګرځی او دهغه له غذاب او دغاړی له طوق څخه به خلاصون مومی .

## دزکات نصاب :

دسپینو اوسرو زرو زکات او دهغه نصاب :
...... مِن کُلِّ اَربَعِینَ دِرهَماََ دِرهَمُُ وَلَیسَ فِی تِسعَةٍ وَتِسعِینَ وَماءةٍ شَیی ُُ فَاِذاَ بَلَغَت مَاء تینِ فَفِیهَا خَمسَةُُ دَرَاِهمَ (رواه الترمذی وابوداود).

پس اداء کړی زکات د سپینو رزو دهر ځلویښت درهمو نه یو درهم – اود 199 درهمو پوری هیڅ واجب ندی او کله چه 200 دوه سوه پوره شی نو په هغه کی پنځه درهم زکات واجب دی .
حضرت ام سلمه (رض ) وایی : ما بنګری په لاس کول ، بیا می له رسول الله (ص) ځخه پوښتنه وکړه چی ای دخدای ج رسوله ! آیا دا هم کنز دی ؟ ( کوم چه د توبی په سورت کی د کنز په باب سخت وعید نازل شوی ) هغه (ص) راته په ځواب کی وفرمایل : کوم مال چه د زکات ورکولو اندازی ( نصاب ) ته ورسیږی او زکات یی ورکړ شی هغه کنز نه دی .
دسپینو زرو زکات دوه سوه 200 شرعی درهم دی ، او دسرو زرو 20 طلایی مثقاله دی داچه درهم او مثقال د ګرام له رویه ځرنګه حساب شی دنوی عصر علماوو داسی بیان کړی .
داسلامی نړی ستر مصری عالم دوکتور وهبة الزحیلی پخپل کتاب فقه اسلامی دوهم جلد کی داسی لیکلی دی
(( دسرو زرو نصاب شل مثقاله یا اووه نیمی تولی دی چه دا شل مثقاله بیا دعراق په مثقال سره د سلو 100 ګرامو سره برابر دی او دغه شل مثقاله دعجمی په مثقال سره له شیږ نوی 96 ګرامو سره برابر دی )).
(( دسپینو زرو نصاب دوه سوه شرعی درهمه یا دوه پنځوس نیمی تولی چی بیا دا دوه سوه شرعی درهم له اووه سوه 700 ګرامو سره برابر دی او دجمهورو علماؤ په نزد دوه سوه شرعی درهم د 642 ګرامو سره برابر دی )) .
په نورو فقهی کتابونو کی لکه درالمختار ، احسن الفتاوی او فتاوی عثمانی کی بیا دسرو زرو 87 ګرامه او د سپینو زرو 612 او 628 ګرامه لیکلی دی .
دسعودی عربستان د اوقاف دعوة او ارشاد وزارت د سرو زو نصاب 85 ګرامه او د سپینو زرو 595 ګرامه ښودلی دی .
همدارګه د قطر،یمن ، سودان او لبنان هیوادونو د زکات ادارو هم دسروزرو شل مثقاله له ( 85 ) ګرامه اود سپینو زرو دوه سوه درهمه له 595 ګرامه برابر ښودلی دی .
نو پدی خاطر چه همدا دسعودی عربستان ټاکل شوی مقدار اقل دی (دغریبانو په ګټه دی ) او هم دیوه هیواد پر سطحه تعین شوی دی داعتبار وړ دی .
دسرو اوسپینو زرو د زکات اندازه ٪ 2.5 یا 40 ځلویښتمه برخه ده .
لومړی مثال : که څوک په خپل کور کی 120 ګرامه سره زر ولری نو زکات یی داسی حسابیږی .که د یوه ګرام طلا قیمت 1200 افغانی وټاکو نو 120x1200 = 144000Af نو دزکات اندازه به 144000÷ 40 = 3600 نو دری زره او شپږ سوه افغانی د زکات اندازه شوه.
دوهم مثال : که څوک 8500 ګرامه سپین زر ولری نو که د سپینو زرو د یوه ګرام نرخ 50 افغانی وټاکو نو
50x 8500 = 425000÷40 = 10625 Af نو لس زره و شپږسوه او پنځه ویشت افغانی زکات به پر مستحقو کسانو ویشی .
د نغدو پیسو او تجارتی اموالو زکات او دهغه نصاب :
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ ( 267 الفقره ).
ای مؤمنانو! لګوی ! له حلالو ،پاکو دهغومالونو چه ( په کسب سره ) تاسی ګټلی .
وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ( الذاریات 19 ).
اوپه مالونو د دوی کی حق او برخه وه سوالګر لره او صبرکوونکی لره ( مسکین وی خو له شرمه سوال نه کوی ) .
عَنِ سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي الله ُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَامُرُنَا اَن نُخرِجَ الصَّدَقَةَ مَنَ الَّذِي نُعِدُّ لِلبَيعِ ( رواه ابوداود ) .
دحضرت سمره بن جندب (رض ) نه روایت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته حکم وو – چه مونږ به دهر هغه شی نه زکات وباسو کوم چه د بیع و فروخت یعنی تجارت دپاره اخستی وی .

دنغدو پیسو او تجارتی اموالو ( دوکان ، دواخانه ، فابریکه او غیره ) نصاب د سپینو زرو د نصاب له رویه ټا کل کیږی ځکه د سپیونو زرو نصاب اقل دی نو په اقل عمل کوو .

د نغدو پیسو یا په تجارتی دوران کی بندو پیسو نصاب دسپینوزرو نصاب له رویه ټاکو چه د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه یا 595 ګرامه سره سمون

خوری .

که دسپینو زرو دیوه ګرام قیمت 50 افغانی وټاکو نو 50x 595 = 29750 ≈ 30000 Af نو که ځوک 30000 دیرش زره افغانی د نغد و پیسو یا تجارتی اموالو پانګه ولری کال ورباندی تیر شی زکات ور باندی فرض دی .

دزکات اندازه ٪ 2.5 یا 40 څلويښتمه برخه ده .
لومړی مثال : یوه تجار خپل تجارتی اموال حساب کړل پانګه یی 350000 افغانی شوه زکات به یی
350000 ÷40 = af 8750 یا 2.5% = 2.5 / 100 = 8750 af = 0.025x 350000 د زکات د ورکړی اندازه به 8750 افغانی شی..

دزکات مستحقین ( زکات چاته ورکړشی یا د زکات د مصرف ځایونه ) :
دزکات دمستحقینو په اړه چه زکات کومو کسانو ته ورکړ شی قرآنکریم داسی حکم کړی دی .
إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ( التوبه ۶۰ ) .
بیشکه همدا خبره ده چه صدقی ( زکات صرفیری ) لپاره د فقیرانو ،مسکینانو ،عاملانو (دزکات را ټولولو مامورین ) او مؤلفة قلوب ( چه د هغوی زړونه په لاس راوړل مطلب وی ) او (صرفیری) په ( خلاصولو ) د غاړو ( د بندیانو او مریان ) او پوروړو او ( صرفیری ) په لاره د خدای ج کی او مسافر چه مال ورسره نه وی ( مقرر کړی ده دغه ) فریضه ( زکات ) له ( جانبه ) د الله ( دغه مصارفو لره ) او الله په هر څه ښه پوه او دحکمت واله دی .

۱- فقراء : د دی نه مراد هغه څوک دی چه بالکل تش لاس نه وی خو داسی وی چه د بال بچ ضرورتونه ئی نه پوره کیږې او نهٔ ورسره دومره مال یا غله وی چه پخپله پری ذکات فرض وی .
۲- مساکین : هغه تش لاسی خلک دی چه د نفقی لپاره څه نه لری که څه هم کسب او کار ته ډیر لاس اچوی خو بیا هم څه ورباندی نه کیری ، یا معیوب شوی وی یا ناروغه وی چه د کسب کار توان یی له لاسه ورکړی وی
۳- عاملین : دزکات ټولوونکی کسان دا خلک که څه هم مالداره وی بیا هم د دوی د زحمت او دوخت ضایع کیدو له وجی زکات ورکول کیدای شی .
۴- مؤلفة القلوب : هغه کسان چه د دوی زړونه د اسلام طرف ته مایل شوی وی ، او د دوی زړه لاس ته راوړل مطلب وی .
۵- رقاب : هغه کسان چه د نورو په قبضه کی راغلی وی ، مثلاً دجنګ بندیان ،مریان یا دچا په قرض کی ګرفتار کس .
۶- غارمین : کوم خلک چه داسی پوروړی یا په څه وجه تاوانی شوی وی چه دقرض د ادا کولو توان ونه لری دا ډله هم د زکات له مستحقینو څخه ده .
۶- فی سبیل الله : هغه کسان چه دخدای ج د دین د لوړوالی لپاره جهاد کوی ، دعوت کوی اویا پر بله طریقه یی د دین نصرت ته ملا تړلی وی د زکات مستحقین دی .
۷- ابن سبیل : که کوم مسافر وی چه د سفر پر وخت محتاج یا له څه مشکل سره مخ شوی وی که څ هم په خپل کور کی مالدار وی د زکات مستحق دی .

---

دکرهنی او مالداری د زکات په اړه به ورسته بیان خپور شی